مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خدران ۲۰۲۲/۰۴/۱۲

د پاکستان پوځي دیکټاتوری سیستم
او ملکي بې ثباته واکمنې ته یوه لنډه کتنه

په ۱۹۴۷ کال کې د جولای په ۱۹ نېټه د برتانوي هند د جګړې ډیپارټمنټ له خوا د برتانوي هند اجیر مذور پوځ وویشل شو. د یوه پوځی پلان له مخې د برتانوي هند شاوخوا ۴۰۰ زره کسیزه وسله وال امپریال ځواک وویشل شو.

له دې شمیرې څخه ۲۶۰ زرو پوځیانو د هند نوی وسله وال جوړ شو او د پاتې نورو ځواکونو د نوی پاکستان نوی وسله وال ځواک یا د پنجاب پوځي رجمنټ جوړ شو. د انګریزي استعمارګرو پوځي افسرانو لخوا په همدې برتانوي اجیر پوځ باندې د څه باندې ۲۵ کلونو راهیسې د هندویزم مفکورې یا هندو کولو پروګرام پلي کړي او ترسره شوي و. د همدې اجیر پوځ په ۲۲۰۰۰ مسلکي پیاوړو افسرانو قول اردو کې ۱۳۵۰۰ برتانوي افسران هم شامل وو. د دغو انګریزي افسرانو څخه ځینې په داوطلبانه توګه د هند او پاکستان په وسله وال پوځ کې خپل خدمت ته دوام ورکړ.

د پاکستان پوځ تر ۱۹۵۱ کال پورې د برتانوي جنرالانو تر قوماندې رهبري او اداره کیده. تر ۱۹۵۷ مو کلونو پورې د پاکستان هوایي ځواک د برتانوي پوځیانو لخوا په مستقیم ډول قوماندې او اداره کیده. په داسې حال کې پاکستانیانو او سیاستوالو د ازادۍ جشنونه لمانځل.

په ۱۹۷۱ کال کې د ختیځ پاکستان بنګله دیش له جلاکیدو ورسته یو نوی پاکستانی نسل رامنځته شو، چې دوی په خپلو ښوونیزو او روزنیزو کمپونو او ښوونځیو کې پوځي زده کړې پیل کړې. کله چې د دوی ستراتیجي له مخې په خپلو روزنیزو پوځي ښوونځیو کې نوی افسران وروزل شول او فارغ شول، دوی بیا د بهرنیو افسرانو ځایونه دک کړل.

په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کلونو کې پاکستان د امریکا متحده ایالاتو سره د همکارۍ تړون له لارې د امریکا تر سر مشرۍ او اغیز لاندې د پاکستاني پوځ نوی مشرتابه بنسټ رامنځ ته شو.

د ۱۹۴۸ کال په پسرلي کې د پاکستان دولت هیڅ ډول ضربتي مهاربوي عملیاتي پیاوړي پوځ نه درولود. پاکستاني پوځیانو د وزیرستان قبایلي وګړي د اسلام په نامه وهڅول، څو د پاکستان په شمال ختیځ کې په ګډه پوله کې د کشمیر پاچاهۍ اشغال کړي. د همدې برید په ترڅ کې د هند او پاکستان لومړۍ جګړه پیل شوه. د پاکستان پښتون ضد ستراتیجي له پیله داسې جوړه شوی ده، چې دوی تر ننه پورې د اړتیا په صورت کې قبایلي پښتانه د خپلو موخو لپاره د یوې سیاسي وسیلې په توګه کاروي او ورته ګوري. پنجابي پوځي جنرالان، سیاستوال او واکمنان د انګریزانو په څېر او په پل د فاټا یا قبایلي وګړي د ټولنیزو او پرمختیایي پروګرامونو څخه بې برخې کړي دي او په انزوا کې ساتلي دي. په ټولیزه توګه پاکستاني واکمنان د خپلې استعماري حکومتوالۍ د ساتلو لپاره د برتانوي استعمار اداري ښکیلاکي میتودونو کاروي او د ایف سي ار تور قانون ته دوام ورکړي دی. تر نن ورځې پورې له انګریزي استعمار څخه د خپلواکۍ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترلاسه کولو اووه لسیزو ورسته بیا هم پاکستان په دې نه دي توانیدلي، چې د استعماري دولت نوم او نښان له ځانه لیرې کړي.

د پاکستان پوځي اشتبلیشمنټ او اې اس آی په افغانستان او کشمیر کې جهادي افراطي ډلې د خپل بهرني سیاست موخو ترلاسه کولو لپاره کارولي دي. د هند او پاکستان ترمنځ څلور واړه جګړې د جهادي اجیرو ملیشو په ملاتړ پیل کړي او بایللي دي. د هند او پاکستان ترمنځ دریمه جګړه په ۱۹۶۵، ۱۹۷۱ او ۱۹۹۹ کالونو کې ترسره شوي دي. د دې جګړو سره سره د کشمیر په لاین افکنټرول سیمه کې یو میلي متر بدلون هم نه دی راغلي.

په ۱۹۶۳ کال کې پاکستان د قراقروم غرنیزې سیمې شمالي برخه کومه چې د هند او پاکستان ترمنځ لانجمنه سیمه وه، د چین دولت ته په مفته کې ور ډالۍ کړه.

د پاکستان په سیاسي نظام کې څو ځله د حکومتونو په بدلولو کې د پوځ اغیزمن رول دابنیي، چې پوځ په سیاست کې خپل برلاسی فعال رول لري. د مشرف د لیرې کیدو راورسته یو ځل بیا دا پوښتنه راپورته کیږي، چې پوځ به تر کومه حده په سیاسي پریکړو کې خپل اغیز ته دوام ورکوي. د پاکستان وسله وال ځواکونه د برتانوي ښکېلاکګر اجیر پوځ څخه زیږیدلي دي. د یو ښکېلاکګر پوځ په تعلیماتنامه یا پوځي تفکر او ډیسپلین کې داسي څه نه شته، چې په سیاسي مسایلو او چارو کې مداخله وکړي، بلکې د پوځ دنده د هیواد دفاعي چارې او د ملکي اداري حکمونو پلي کول دي. لکه څنګه چې د پاکستاني دولت بنسټ ایښودونکي محمد علي جناح په پوځي تعلیماتنامه کې او په نظامي حلف کې په روښانه توګه بیان کړي دي. د پاکستان په پوځ کې پوځي لوړه ترسره کیږي خو عمل نه پرې کیږي. پوځ له سیاست څخه د لیرې کولو لپاره د پاکستان په سیاسي نظام کې د څو پوځي مشرانو د ژمنو بر خلاف د څلور کودتاوې او په حکومتي بدلونونو کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د پوځ د فعال رول درلودلو او اغیز لرلو شاهدان یو. د پاکستان پوځ د وخت په تیرېدو سره په اقتصادي او سیاسي برخو کې په یوه ستر پیاوړي انحصاري ځواک بدل شوي دی.

د پاکستان په ۷۵ کلن تاریخ کې هیڅ یوه لومړي وزیر خپله پینځه کلنه دوره نه بشپړه کړي. دا لړۍ د عمران خان تر ګوښه کیدو پورې غزیدلي. نوموړي د پاکستان په تاریخ کې د یکشنبې په ورځ د عدم اعتمار رائیه له لاسه ورکړه.

د ۱۹۴۷ کلونو راهیسې په ټولیزه توګه ۲۲ لومړي وزیران تیر شوي دي. چې یوه یې په یو کال کې دوه ځله دنده ترسره کړي ده. همدارنګه د ۱۹۴۷ کال راهیسې دریځلي پوځي دیکټاتوري واکمنۍ تېرې شوي دي. دوی تل د خپل اسبتدادي ظالمي واکمني څرنګوالي ماهیت د پټولو لپاره د اساسي قانون مادې په عجیبه غریبه توګه کارولي دي. څو خپلې پوځي دیکټاتوریۍ ته په کې مشروعیت ورکړي.

د پاکستان پر لومړي وزیرانو باندې په ۱۸ موادردو کې بېلابېل د اداري فساد او د غداري تورونه لګیدلي دي. په دوی کې ځینې د مستقیمو پوځي کودتاو له لورې له واکه لیرې کړل شوي دي او یا د واکمنو ډلو یا ګوندونو د خپلمنځي اختلافاتو له امله جبراً استعفا ته مجبور کړل شوي دي.

د پاکستان لومړنی لومړی وزیر یا صدراعظم لیاقت علي خان د یوه غیرتمن هیوادپال افغان لخوا وژلي شوي دی.

نورو لومړي وزیرانو د محدود وخت لپاره د سر پرست یا موقت لومړي وزیرانو په توګه دندې تر سره کړي دي، تر څو د نویو ټاکنو څارنه وکړي یا د ګوښه شوي لومړي وزیر پاتې دوره ورپوره کړي.

په ۱۹۹۳ کال کې کله چې د ډېورنډ لعنتی کربنې تړون سل کاله پوره کیږي، دا کالونه په ځانګړي توګه د پښتو لومړی وزیرانو د بدلونونو سره مل و. په دې کالونو کې د روسي اشغال ورسته د افغانستان په کورنۍ جګړو کې د پاکستاني پوځیانو ستراتیجکي ژوري پالیسي موخې ډیرې ښې لیدل کیږي.

د یوه پاکستانی لومړي وزیر تر ټولو لنډه دوره اوونۍ وه او تر ټولو اوږده موده څلور کاله او دوه میاشتي وې. لومړی وزیر میا نواز شریف دري واري په ۱۹۹۰، ۱۹۹۷و او په ۲۰۱۳ کې لومړي وزیر ټاکل شوي دی.

بنګله دېش د بشري پرمختګ په شاخیصتونو کې له پاکستان څخه په مراتب یو پر مختللي هیواد دی. په عین حال کې په پاکستان کې پوځ او پوځي تجهزاتو د هند په پرتله ځښت ډیر لږ دي، خو د بنګله دېش په پرتله ډیر پیاوړي دي. د پاکستان پوځ له انګریزي استعماري کولونیالیستي پوځ څخه تر اټومي ځواک پورې رسیدلي دی. د پاکستان د اټومي بلیک میل ډوکټورین یا د پاکستان د اټومي بلیک میلولو ټګلاره یوازې تر هند پورې محدوده نه ده، دغه هیواد له نړیوالي ټولنې څخه د خپلو امنیتي اټومي تجهزاتو او وسایلو د خوندي ساتنې لپاره ډېرې مرستې ترلاسه کوي او استدلال کوي، چې د بېلابېلواسلامپالو سختدریځه وسله والې ډلې کومې چې په خپله روزې د ځواکمنیدو له امله کیدای شي اټومي ځواک پاکستان له ستر ګواښ سره مخامخ شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که پاکستان اټومي ځواک نه واي، نن به ډېر لږ شمېر دولتونو له دغه هيواد سره ليوالتيا درلودلي. خو اسلام اباد د اټوم بم لري، نړيوال ورته د اندېښنې په سترګه ګوري، چې کيداى شي پاکستان ناکام شي. که څه هم پاکستان د سقوط او ناکامي په لور روان دى. که دا اټومي وسلې د سختدريځو بنسټپالو لاسه ورولويږي.

نن اټومي ځواک پاکستان د کورنۍ جګړې، پوځي اضطراري حالت، د سترو سياسي کړکيچونو او ګډوډۍ کندې په څنډه کې ولاړ دى. پاکستان د نړۍ تر ټولو يو خطرناکترينه هيواد دى. د نړيوالې سولې او امنيت لپاره يو ستر ګواښ دى.

پاکستان د ترهګري ضد جګړه کې د نړيوالې ټولنې لخوا د ترهګرۍ ملاتړي هيواد په توګه پېژندل شوي هيواد دى. پاکستان کې د ډيموکراسي پرمختګ مخه همدې پوځي اشتبليشمنټ، فاسدې اداري او کوچنۍ سياسي اشرافي کورنيو چې دوى په خپلو کې اتحادونه سره بدلوي او د يو بل پر ضد عمل کوي او کله هم په ګډه کار کوي، څو د خپلو ګټو ساتنه وکړي. په ټولو کې د پوځ خودمختاره او خپلواکه عمل داسې ښکاري، لکه د دولت په د ننه کې يو دولت جوړوي. د پاکستان پوځي استخبارات اداره اې اس اې له بهره بلکول يوه پټه، پيچلې او مبهم اداره ده، چې له هر ډول کنټرول او تفتيش څخه ډډه کوي. پاکستان د خپلې دوه ملتونو تيورۍ لخوا بند يا بلاک شوي هيواد دى. د کشمير کړکيچ د ددو ملتونو د تيورۍ ميراث دى. هند او پاکستان په بنسټيز ډول د خپلو مذهبي نظرياتو له مخې توپير لري، خو په کولتوري او ژبنې برخه کې دوى اختلاف نه لري، بلکې ورته ډير والي لري. همدې پاکستان نظرې د هند سره د بيرنۍ اړتيا نړيوالې اړيکو مخه نيولئ ده. پاکستان د افغانستان سره د ديورنډ کرښې کړکيچ ستونزه لري، د هند سره په کشمير کې د لاين افکنترول شخړه او د ايران سره هم سرحدى ستونزې لري. پاکستان له دې امله له ګاونډيانو هيوادونو سره په جنګ، جګړو او جبهو کې ايسار يو ډير زر ماتيدونکى هيواد دى.

د ۱۹۴۷ کال راهيسې د پاکستان د لومړي وزيرانو ليست کوم چې د دندې موده يې مخکې له ټاکل شوي دورې څخه پاى ته رسيدلي دى. دا د پاکستان په ماته ګوډه ډيموکراسي کې د غير ديموکراتو حکومتونو يو لست هم دى.

1. په ۱۹۴۷ کال کې د اګست په مياشت کې لياقت علي خان د پاکستان لومړنۍ لومړى وزير دنده په غاړه واخيسته. په ۱۹۵۱ کال کې د اکتوبر په ۱۶ مه نېټه نوموړي د يوه هيواد پال ميرنۍ افغان سيد اکبر خان ببرک زى ځدران له خوا د ډيورنډ کرښې په سر د راولپنډۍ په ستره سياسي غونډه کې، چې تر ۱۲۰ زرو کسانو پورې په کې ګډون کړي وه. مخامخ د تومانچې په ډزو ووژل شو. د نوموړي صدراعظم د دندې موده څلور کاله او دوه مياشتې وې.
2. ۱۹۵۱ کال د اکتوبر په ۱۷ نېټه خواجه ناظم الدين د پاکستان د لومړي وزير دنده پيل کړه. نوموړى په ۱۹۵۱ کال د اکتوبر په ۱۷ نېټه د پاکستان د هغې مهال پياوړي جنرال ګورنر لخوا له د مذهبي فسادونو او د ناسم مديريت په تور له دندې ليرى کړل شو. جنرال ګورنر د برتانوي هند د استعماري واکمنۍ څخه په ميراث کې پاتې شوي يو پياوړي مهم دولتي مقام و. د نوموړي د دندې موده يو کال او شپږ مياشتې وې.
3. په ۱۹۵۳ کال کې د اپريل پر ۱۷ نېټه محمد علي بوګرا د لومړي وزير دنده په غاړه واخيسته. نوموړي په ۱۹۵۵ کال کې د اګست په ۱۱ مه نېټه استعفا وکړه. د نوموړي د دندې موده دوه کاله او درې مياشتې وې.
4. په ۱۹۵۵ کال کې د اګست په مياشت کې چوهداري محمد علي د لومړي وزير دنده په غاړه واخيسته. د نوموړي د دندې موده يو کال او يوه مياشت وه.
5. په ۱۹۵۶ کال کې د سپټمبر په ۱۲ مه نېټه حسين شهيد سهروردي دنده پيل کړه. نوموړي په ۱۹۵۷ کال کې د اکتوبر په ۱۸ نېټه د سياسي واک له نورو مرکزونو سره په ځانګړي توګه د پوځ سره د اختلافاتو له امله له دندې څخه استعفا ورکړه. د نوموړي د دندې موده يو کال او يوه مياشت وه.
6. په ۱۹۵۸ کال محمد ايوب خان د پوځي کودتا له لارې واک تر لاسه کړو. د پاکستان اساسي قانون تازه دوه کاله وړاندې تصويب شوي و، د هغه له خوا وځنډول شو. ايوب خان تر ۱۹۶۹ کال حکومت وکړ، د امريکا متحده ايالاتو سره يې پوځي اتحاد جوړ کړ او د کشمير په سر يې له هند سره جګړه پيل کړه. دا جګړه د مسکو په منځګړتوب د اوربند په پايله کې پاى ته ورسيده.
7. په ۱۹۵۷ کال کې د اکتوبر په مياشت کې ابراهيم اسماعيل چندريګر دنده پيل کړه. په ۱۹۵۷ کال کې د ډسمبر په ۱۶ مه نېټه استعفا ورکړه، ځکه هغه په ولسي جرګه کې د نه باور د رائيې سره مخامخ شو. د نوموړي د دندې موده د دوو مياشتو څخه لږ وه.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

8. په ۱۹۷۵ کال کې د ډسمبر په ۱۶ مه نېټه ملک فیروز خان نون دنده پیل کړه. په ۱۹۵۸ کال کې د اکتوبر په اوومه نېټه په پاکستان کې د مارشل لا د پلي کیدو له امله ګوښه کړل شو. د دندې موده د لسو میاشتو څخه لږ وه.

9. په ۱۹۷۱ کال کې د ډسمبر په اوومه نېټه نورالامین دنده په غاړه واخیسته. په ۱۹۷۱ کال کې د ډسمبر په ۲۰ مه نېټه له پاکستان څخه بنګله دیش له جلا کېدو لږ موده ورسته له دندې ګوښه شو. د نوموړي د دندې موده له دوه اوونیو څخه لږ وه.

10. په ۱۹۷۳ کال کې د اګست په ۱۴ نېټه ذوالفقار علي بوټو دنده پیل کړه. د ۱۹۷۷ کال د جولای په پینځمه نېټه د یوې پوځي کودتا له لارې له واکه وغورځول شو او بندي او اعدام کړل شو. د نوموړي د دندې موده درې کال او یوولس میاشتې وې.

11. په ۱۹۷۷ کال کې جنرال ضیا الحق د پوځي کودتا له لارې واک ترلاسه کړو. دوه کاله یې له واکه د لیرې کړل شوې صدراعظم ذوالفقار علي بوټو د مرګ په سزا محکوم او شو. ضیاالحق د پاکستان د ستراتیجکي ژورې پالیسیو له مخې په افغانستان کې د سرو لښکرو په وړاندې جګړه کې افغان مجاهدینو ملاتړ وکړ. هممهال یې د مسلمانانو لږکیو په وړاندې لکه شیعه ګان او احمدیانو پر ضد سیاست خپل پیل کړ. هغه پاکستان له متحده ایالاتو سره ډیر نږدې کړ. خو په ورته وخت کې خپل اټوم پروګرام پرمخ یوو، چې په ۱۹۹۸ کال کې د اټومي وسلو بریالي ازموینه ترسره کړه. په ۱۹۸۸ کال کې ضیا الحق د الوتکې د غورېدو له امله مړ شو.

12. په ۱۹۸۵ کال کې د مارچ په میاشت کې محمد خان جونیجو دنده په غاړه واخیستله او د ۱۹۸۸ کال د می په ۲۹ نېټه د پوځ مشر له خوا چې خپله ولسمشر هم و، له دندې ګوښه کړل شو. د نوموړي د ندې موده درې کاله او دوه میاشتې وې.

13. په ۱۹۸۸ کال کې د ډسمبر په دویمه نېټه بې نظیر بوټو د وزل شوې لومړۍ وزیر ذوالفقار علي بوټو لور دنده په غاړه واخیسته. د هغې حکومت هم په ۱۹۹۰ کال کې د اګست په شپږمه نېټه د فساد په تور د پوځیانو لخوا پای ته ورسول شو. په ۲۰۰۷ کال کې د ډسمبر په ۲۷ مه نېټه پخوانۍ لومړۍ وزیره په یوه ځوانیمرګي برید کې ووژلې شوه. د نوموړي د ندې موده یو کال او اته میاشتې وې.

14. په ۱۹۹۰ کال کې د نوامبر په شپږمه نېټه میا نواز شریف واک ترلاسه کړو. د هغه حکومت هم په ۱۹۹۳ کال کې د اپریل په ۱۸ مه نېټه پر بوټو باندې د ورته تورونو له امله د ولسمشر له خوا له کاره ګوښه کړل شو. هغه څو اوونۍ ورسته په دې وتوانید، چې د محاکمو لخوا پریکړه بیرته واخیستل شي او بیرته خپل دفتر ته ستون شو، خو د پوځ سره د اختلافاتو ورسته بیرته استعفا ورکړه. د نواز شریف ټوله موده دوه کاله او اووه میاشتې وې.

15. په ۱۹۹۳ کال کې د اکتوبر په ۱۹ نېټه بې نظیر بوټو د دویمې دورې لپاره واک ته راستانه شوه. په ۱۹۹۶کال کې د نوامبر په پینځمه نېټه یو خل بیا د ولسمشر لخوا د ناسمې حکومتوالۍ په تور له دندې ګوښه کړل شوه. د نوموړي د دندې موده یوازې درې کاله وو.

16. په ۱۹۹۷ کال کې د فبروري په ۱۷ نېټه نواز شریف د دویم ځل لپاره واک ته ورسید. په ۱۹۹۹ کال کې د اکتوبر په ۱۲ نېټه د هغه حکومت د پاکستان په لنډ تاریخ کې د دریمې پوځي کودتا له لورې نسکورکړل شو. د نوموړي د دندې موده دوه کاله او اته میاشتې وې.

17. په ۱۹۹۹ کال کې پرویز مشرف هغه مهال لومړۍ وزیر نواز شریف له واکه لرې کړ، چې نواز شریف غوښتل مشرف د کشمیر په کارکیل سیمه کې د ناکامې جګړې له امله هغه د لوی قوماندان په توګه لیرې کړي. مشرف تر ۲۰۰۸ کال پورې ولسمشر و. مشرف د طالبانو پر ضد جګړه کې د امریکا متحده ایالاتو متحد او ملګري وه.

18. په ۲۰۰۲ کال کې د نوامبر په میاشت کې میر ظفرالله خان جمالي د پوځي واکمنۍ پر مهال لومړۍ وزیر وټاکل شو او په ۲۰۰۴ حکال کې د جون په ۲۶ نېټه له پوځ سره تر اختلافاتو ورسته استعفا ورکړه. د نوموړي د دندې موده یو کال او اووه میاشتې وې.

19. په ۲۰۰۸ کال کې د مارچ په ۲۵ نېټه یوسف رضا ګیلاني د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو. هغه په ۲۰۱۲ کال کې د پاکستان د سترې محکمې لخوا د محکمې د سپکاوي په تور نا اهله اعلان شو. د نوموړي د دندې موده څلور کاله او یوه میاشت وه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

20. په ۲۰۱۳ کال کې د جون په پینځمه نېټه نواز شریف د دریم ځل لپاره لومړی وزیر وټاکل شو. هغه په ۲۰۱۷ کال کې د جولای په ۲۸ مه نېټه د پاکستان د سترې محکمې لخوا د شتمنیو د غلا، پټولو په تور له دندې ګوشه کړل شو. د نومورې دندې موده ځلور کاله او دوه میاشتې وې.

21. په ۲۰۱۸ کال کې د اګسټ په ۱۸ مه نېټه عمران خان د لومړی وزیر په توګه وټاکل شو. هغه د اپوزیسیون ګوندونو لخوا په ۲۰۲۲ کال کې د اپریل په لسمه نېټه د څو ورځو سیاسي ډارماتیک کړکیچ ورسته د سترې محکمې د حکم له مخې په ولسي جرګه کې د عدم اعتماد یا د باور رائیه له لاسه ورکړه او له واکه استعفا کولو ته مجبور کړل شو. د نومورې دندې موده درې کاله او اووه میاشتې وې.

22. په ۲۰۲۲ کال کې د اپریل په یوولسمه نېټه د دوشنبې په ورځ د یوې اوونۍ ناڅرګندتیا ورسته شهباز شریف د ولسي جرګې لخوا د ۳۴۲ غړو په رایو کې ۱۷۴ رائیو په تر لاسه کولو سره د پاکستان درویشتم نوی لومړی وزیر په توګه وټاکل شو. د عمران خان ګوند په ولسي جرګه کې د ۱۵۵ څوکیو سره تر ټولو لوی ګوند د دغې غوندې سره بایکاټ وکړ او له اسملۍ څخه یې استعفا پرېکړه وکړه. اوس به میا شهباز شریف د نواز شریف کشر ورور نوی موقت حکومت جوړوي او په ۲۰۲۳ کال کې د اګسټ په میاشت کې ټولټاکنې ترسره کوي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ